Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations

د محترم نصیراحمد فایق وینا

په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي استازولۍ سرپرست

د ښځو، سولې او امنیت په اړه د امنیت شورا پرانیستی بحث:

په راتلونکې ربع پیړۍ کې د عملي اقداماتو له لارې د ژمنو پوره کول

د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر ۳۰مه

نیویارک

محترمې رئيسې،

له تاسو څخه د دې بحث د رابللو له امله مننه کوم. همدارنګه له سرمنشي، ښاغلي انتونيو ګوترش، د سرمنشي له مرستيالې، مېرمن سيما بحوث، او د افغانستان د مدني ټولنې له استازې، مېرمن تمنا زريابپرياني، څخه د خپلو څرګندونو د وړاندې کولو له امله مننه کوم.

د ۱۳۲۵ پرېکړهليک له تصويب څخه د څه باندې ۲۶ کلونو په تېرېدو، د ژمنو او د هغو د پلي کېدو ترمنځ واټن لا هم د منلو وړ نه دی. کله چې ښځې د سولې له جوړولو څخه ځنډې ته شي، سوله دوام نه شي موندلای.

افغانستان په ۲۰۱۵ کال کې د ۱۳۲۵ پرېکړهليک د پلي کولو لپاره خپل ملي کاري پلان تصويب کړ. افغان ښځو د قاضيانو، وزيرانو، سفيرانو، پيلوټانو او د پارلمان د غړو په توګه خدمت کاوه. نن، د طالبانو تر واکمنۍ لاندې، دا لاسته راوړنې په سيستماتيک ډول له منځه وړل شوې دي.

۲.۴ ميليونه نجونې له منځنيو زدهکړو محرومې دي. ښځې له پوهنتونونو، ډېرى دندو او ګڼو عامه ځايونو منع شوې دي. د ملګرو ملتونو او بشردوستانه بنسټونو پر ښځينه کارکوونکو محدوديتونو د مرستو رسولو بهير نور هم کمزورى کړى دى. د کورنۍ تاوتريخوالي، اجباري ودونو، د ماشومانو د ودونو او سختو رواني فشارونو راپورونه د دې انساني غميزې ابعاد لا ژوروي. دا تبعيضي تګلارې له اسلامي لارښوونو او د افغانستان له دودونو سره په ټکر کې دي. له دې سره سره، افغان ښځې لا هم اعتراض کوي، په پټه نجونو ته زدهکړې ورکوي او خپلې ټولنې پر پښو ساتي. د هغوى زړورتيا زمونږ د عملي اقدام غوښتنه کوي.

له همدې امله، د دې شورا د غور لپاره څلور وړاندیزونه وړاندې کوم:

لومړى، د دوحې بهير په ګډون، د خپل هېواد په اړه په ټولو سياسي بهيرونو کې د افغان ښځو بشپړ، برابر، مانادار او خوندي ګډون تضمين کړئ. هغوى بايد له پيله د اجنډا په ټاکلو او د پرېکړو په جوړولو کې ونډه ولري. د هغوى حقونه بايد هېڅکله د معاملې په وسيله بدل نه شي.

دويم، د جنسيت پر بنسټ د ځوروني او تعقيب او د بشري حقونو د نورو جدي سرغړونو په اړه حساب ورکونه پر مخ يوسئ. د يوناما د ځانړنې له دوام او خپلواکو څېړنو ملاتړ وکړئ، شواهد وساتئ او د قربانيانو او شاهدانو ساتنه وکړئ. د جرمونو د نړيوالې محکمې او د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون «سېډاو» د اړوندو ميکانېزمونو له لارې د حساب ورکونې له بشپړوونکو هڅو ملاتړ وکړئ.

درېيم، د ښځو په مشرۍ سازمانونو ته د شفافو او حساب ورکوونکو ترتيباتو له لارې مستقيم، انعطافمنونکى او د وړاندويني وړ مالي ملاتړ برابر کړئ. د بشري حقونو ښځينه مدافعاني له غچ اخيستونکو اقداماتو وساتئ، له خطر سره مخ کسانو ته خوندي لارې برابرې کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې په دې شورا کې د هغوى غړونه لا هم اوربدل کېږي.

څلورم، د ښځو او نجونو پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو د بيا پرانيستلو او د ملګرو ملتونو او بشردوستانه بنسټونو پر ښځينه کارکوونکو د محدوديتونو د لرې کولو غوښتنه وکړئ. د آنلاين زدهکړو په

ګډون، له خوندي او باکیفیته زده‌کړو ملاتړ وکړئ او په ورته وخت کې د زده‌کړې د حق پر بشپړې بیا اعادې ټینګار وکړئ.

محترمې رئیسې،

په پای کې، د دغو ژمنو پلي کول یوه متحد او همغږي نړیوال چلند ته اړتیا لري. تعامل باید هېڅکله د ځپنې او حذف د عادي کولو په وسیله بدل نه شي. تلپاتې سوله یو مشروع، ټولشموله او حساب ورکوونکی حکومت غواړي چې د قانون پر حاکمیت، عدالت او د افغانستان د خلکو پر اراده ولاړ وي؛ داسې حکومت چې د افغانستان ملي او نړیوالو ژمنو او د ټولو وګړو اساسي حقونو ته ژمن وي.

مننه.